# درملنه او کړوالي



Medimmigrant


د ټيلفون او ايميل له لاري معلومات

د ټيلفون کولو وختونه

دوشنبه : د 10 څخه تر 13 بجو پوري

سه شنبی : د 14 څخه تر 18 بجو پوري

جمعه : د 10 څخه تر 13 بجو پوري

ټيليفون : 02/274 14 34/33 فکس 02/274 14 48

E-mail: info@medimmigrant.be
www.medimmigrant.be
( په دغه ځای کي ويزيت صورت نه مومي )

پوستي ادرس :

164, rue Gaucheret ▪ 1030 Bruxelles
Fortis: 001-2389649-33


**په صحي بيمي کي نوم ليکنه ( آ ام اي )**

هغه پناه غوښتونکي چي د شپږو مياشتو په موده کي يی د دوسيی څرک ونه لګيږي نو نوموړی کولای شي چي د کار د کولو ث اجازه نامې ته غوښتنليک ورکړي .او که چيري نوموړی په کار مشغول وي نو بايد په آ ايم ايي کي ځان د يوه ث د کار د اجازه نامی په نوم ثبت کړي . ځيني پناه غوښتونکي ځيني وخت کولای شي د نورو کاري حالاتو پر وخت په صحي بيمه کي نوم ليکنه وکړي ، د مثال په توګه ، که معيوب وي يا يی بل څوک په ذمه کي وی او يا نور شرايط چي په فورمه کي ليکلي دي .

## کومه صحي درملنه ؟

د پزيريش د قانون له مخي ، پناه غوښتونکی د صحي بيمی او درملنی حق لري . پناه غوښتونکی د ضروري صحي پرستار درلودل چي د بشري حقوقو ته احترام يکښي نغښتی وي ، حق لري . دا صحي مرستندوی د پناه غوښتونکي سره د هغه د ضرورت تر وخته په دې شرط چي پناهنده وي مرسته کوي . يو بل شرط داسي بيانوي چي صحي مرسته بايد د (آي اين آ ايم آي ) په وسيله تر سره او معرفي شي . څو نوري استثناوي شته چي د 2007 کال د اپريل د 9 نيټي د قانون له مخي د تطبيق وړ دي .

د پام وړ : د پناه غوښتلو د جذب د قانون په محتوا کي د ټولو پناه غوښتونکو د صجي درملني د حق ذکر شوی دی ، په داسي حالاتو کي ممکنه ده چي د اجتماعي مرستو مرکز ( ث پ آ آس ) او يا هم دی ته ورته مؤسسي د پناه غوښتونکي د بعضو مريضيو د تداوی لپاره بايد د خپلي مخصوصي بوديجي څخه د پيسو د تاديه کولو فيصله وکړي ، کوم چي د پناه غوښتونکي حق دی .

## دعوه

که چيري کوم پناه غوښتونکی د هغی فيصلي سره چي د ده د صحت او درملني په اړه شوی ده موافق نه وي ، پناه غوښتونکی کولای شي د دی فيصلي پر ضد دعوه وکړي . دا پروسه به په مختلفو ډولونو تعقيبيږي خو په هغه صورت کي چي نوموړي دا دعوه د اجتماعي مرستو له مرکز ( ث پ آ آس) يا هم د پناه غوښتلو د مرکز(او يا هم د هغوی له همکارو مؤسسو سره ) شريکه کړی وي . د اجتماعي مرستو د مرکز ( ث پ آ آس ) د فيصلي پر ضد دعوه ( او يا د دعوی د معطل کيدلو پر ضد ، په هغه مياشت کي چي د پناه غوښتلو دوسيه په جريان کي وی ) کيدلای شي د را روانو دريو مياشتو په طول کي د کار د محکمي ته وړاندي شي .

د پناه غوښتلو د مرکز د فيصلي پر ضد د دعوې اقامه ( يا د هغوی د همکارو مؤسسو ) بايد د يوه ليکلي ليک په واسطه چي د ډاکټر يو تصديق شوی نظر هم ورسره مل وي تر ټولو لومړی بايد د پناه غوښتلو د اداري عمومي مشر ته وړاندي شي ، چي دا پروسه به د يوي مياشتي په شا و خوا کي وخت ونيسي . د فيصلي د منفي نتيجې په صورت کي ( او يا هم د فيصلي د غيابت او يا معطلی په صورت کي ) کيدلای شي چي د کار د محکمي پر وړاندي دعوه ثبت او راجستر شي چي دا پروسه به دری مياشتي وخت په بر کي ونيسي .

## څو ضروري پتي

د کړوالو خدماتي مرکز

د ملاقات د ځای او د 207 کود په اړه معلومات :

WTC II
Chaussée d'Anvers 59B
( د انتظار خونه په لاندني منزل کي د ننوتلو د دروازي په ښي اړخ کي )
1000 Bruxelles, 02/ 793.82.40
د کړولو د صيحي چارو دفتر
medic@fedasil.be; (فکس) 02/ 213.44.12
02/ 213.43.00 (فرانسوي) 02/ 213.43.25 (ټليفون)

تاسو کولای شی چي غه کتابچه ګوټي په فرانسوي ،نيدرلندي ، انګليسی ، هسپانوي ، روسي ، پرتګالي او نورو ژبو باندي په وړيا ډول د انټرنيټ له لاري زموږ له ويبسايټ څخه ځان ته ثبت کړی . د بې قانونه کړوالو لپاره چي اسناد ونه لري ، صحي مرسته . د هغو کړوالو ښځو لپاره چي اسناد ونه لري او بارداره وي يا د ولادت په وخت کي . بيمه د هغو بی اسنادو کړوالو لپاره چي اسناد ونه لري او سخت مريضان وي . د اوسيدلو لنډه اجازه نامه د مريضی په خاطر . د هغو عصبي مريضو کړوالو لپاره چي اسناد ونه لري . د مريضی له وجهي ويزه + په زمه اخيستل . څه بايد وشي کله چي ستاسي په کار کي يوه حادثه وشي او چي تاسي رسمي قرارداد هم نه لری ؟ د خپلي خوښنی د بيرته تللو په صورت کي صحي مرسته رسول . د اروپايي اوسيدونکو د صحت او سلامتيا لپاره لاس رسی .


*Avec le soutien de la*
*Commission Communautaire Flamande et de la Commission Communautaire Commune*

É.R.: asbl Medimmigrant,
164 rue Gaucheret, 1030 Bruxelles

پناه غوښتونکی د هغه صحي سهولتونو څخه برخمن کیدلای شي چې زموږ له اړخه ورته په نظر کې نیول شوي دي، دسهولتونه که یا په تړلي مرکز کې دي او یا هم په زندان کې. د پناه غوښتونکو د صحت او درملني مصارف د پناه غوښتلو د اداری په ذمه نه دي بلکې د د داخلي چارو قضایی اداره ( آی پ آف ) په غاړه دي او یا هم د اجتماعي مرستو د تنظیم اداره ( آس پ پ ) . پناه غوښتونکی د دې حق لري چې د یوه بل ډاکټر په وسیله خپله درملنه سر ته ورسوي چې کولای شي د درملني لپاره یې هم کور ته او یا هم تړلي مرکز ته او یا هم زندان ته، ورشي. مګر د دی درملني ټوله مصارف ستاسي په ذمه دي.

## د درملني او صحي حق پای

کله چې تاسي د هیواد څخه د وتلو امر تر لاسه کړی او د دعوی وخت هم تیر شوی وي نو د پناه غوښتلو اداره مسؤلیت نه لري ( خو یوازي په هغه صورت کې چې د پناه غوښتونکي د مصارفو د ورکولو چاره د اوسیدلو مرکز پر غاړه واخلي ) 2. که چیري پناه غوښتونکی نور هیڅ د اوسیدلو اجازه ونه لري هغه کولای شي چې د اجتماعي مرستو له اداری ( ث ت پ آ آس ) څخه مرسته وغواړي. چې د دې پروسي نوم د عاجلو صحي مرستو اداره ده. هغه باید د خپل محل د اجتماعي مرستو له مرکز سره تماس ونیسي ( د آی ایم یو قات شوی کتابچه ولولی). که چیري پناه غوښتونکی ( یا د پناه غوښتونکي د کورنی غړی ) د دریو میاشتو څخه زیات د اوسیدلو حق پیدا کړي نو دی مجبوره دی تر څو د جذب مرکز پریږدي. او د خپل نور قانوني حقوق وغواړي.

د صحي چارو او درملني د چارو د تنظیم په حالت کې پناه غوښتونکی حق لري چې د پناه غوښتلو د اداری څخه اجازه واخلي تر څو د اوسیدلو مرکز ترک کړي.

## څو یادوني

د کواتر 26 ضمیمه: که تاسو ته د خارجیانو د چارو له دفتر څخه د دوبلین د قرارداد له وجهي، منفي جواب درکړل شي، په بلجیم کې ستاسو د پناه غوښتلو دوسیه نه څیړل کیږي خو پناه غوښتونکي د اجناسو د درلودلو حق او حقوق لري .تر څو ستاسو د تګ چاري هغه بل هیواد ته اماده کیږي چې تاسو په لومړي سر کې د همدی اروپایی هیوادونو اتحاد ته ورغلي واست.

(1) پاملرنه: دا ممکنه ده چې 207 کوډ به د نه فعاله پر ځای لا هم فعاله وي( د مثال په توګه. د هغه پناه غوښتونکي چې لا تراوسه نوی وي ).

(2) د کډوالو د بیرته ستنیدلو د 2013 کال د 09 میاشتي د 23 نیټې د پناه غوښتلو اصول.

(3) کډوالو ته د اجناسو د مرستي په اړه د 2013 کال د 10 میاشتي د 15 نیټې د پناه غوښتلو اصول.

(4) د 2012 کال د 09 میاشتي د 27 نیټې د قضایی محکمې ماده اوفصل.

## د صحي مرستو د ریاست د کار ډول

**خپله پناه غوښتونکی یا ډاکټر او یا هم بل معادل کس باید د راتلونکی لپاره په لیکلي ډول د صحي مرستو لپاره غوښتنه وکړي ( = نوم ثبتول ) که چیري وار له مخه د فیس د ورکړي د ضمانت چاري ممکنه نه وي خو ډاکټر کولای شي چې د فیس فاکتور د صحي مرستو اداری ته ورولیږي. په دی صورت کې د صحي مرستو او درملني یوه عاجل تصدیق ته ضرورت دی.**

## پناه غوښتونکی دغه وختونه له 207 کوډ څخه بی برخي کیږي

بعضي وختونه د دې امکان شته چې په مخصوص حالاتو کې ځینې پناه غوښتونکو ته 207 کوډ نه ورکول کیږي او یا هم تری اخیستل کیږي او یا ناچله کیږي. دغه پناه غوښتونکی بیا هم د اجتماعي مرستو له مرکز ( ث پ آ ایس ) څخه مرسته تر لاسه کړي. ( د صحي مرستو او درملني د مرستندویه خدمت پکښې شامل دی )

*که چیري د بیرته راتګ پر وخت نوموړی پناه غوښتونکی په یوه ازاد مرکز کې ځای وموميَ ( 207 کوډ = د بیرته راګرځیدلو له ځای سره )*

که چیري پناه غوښتونکی د پناه غوښتلو او بی وطنه عمومي کمیساریا ( ث ] ا ر آ ) له خوا رد شي او د خارجیانو د مشورتي دفتر څخه هم منفي جواب واخلي، د پناه غوښتلو په یوه مرکز کې د بیرته راتګ یو ځای ورکول کیږي. په دغه وخت کې هم ځای او هم صحي مرسته او د درملني مرسته ورسره کیږي. که چیري پناه غوښتونکی بیرته مرکز ته ستون نه شي او یا نه غواړي چې ستون شي په دی صورت کې له 207 کوډ څخه استفاده نه شي کولای. دا کوډ په نو- شو تبدیلیږي. په هر صورت کې د صحي مرستو او درملني مصارف په ریاست پوري تعلق نیسي. ( مخ کې لیکنه وګوری ) دا مرسته تر هغه وخته پوري دوان مومي چې د هیواد څخه د ترک امر ورته وشي. ( او کیو ت ) - یادونه: بعضي پناه غوښتونکي چې منفي جواب ولري کولای شي کله نا کله د بعضو شرایطو لاندي په خپل اصلي د اوسیدلو په ځای کې ووسي ( مثلا: هغه اوسیدونکي او یا هم د هغوی کورنی چې د مریضی کوم مشکلات ولري، نوموړی مکلف دی چې د خپلي مریضی سند ښکاره کړي .2

*که چیري پناه غوښتونکی په یوه تړلي مرکز کې وي او یا هم په مجبس کې پروت وي.*

کوم څوک چې په بلجیم هیواد کي پناه اخلي نو د پناه غوښتلو د دوسیی په جریان کې د صحي درملني او صحي پرستارحق هم پیدا کوي. دغه صحي مرسته او درملنه د پناه غوښتونکي دوسیی په حالاتو پوري اړه نیسي، د دوسیی پروسه ستاسو د درملني ته لاره هواروي.

که چیري پناه غوښتونکی ونه پوهیږي چې چیري او چا ته ځان حاضر کړي نو 207 کوډ کولای شي چې دغه معلومات او د ځای د ثبت او نور معلومات ورته ورکړي ( که چیري دا کوډ فعاله وي )

## صحي درملني ته لاس رسی

*پناه غوښتونکی په یوه ډلیز مرکز کې ژوند کوي ( کوډ 207 د تجمع مرکز)*

پناه غوښتونکی د تجمع د مرکز د یوه ډاکټر په وسیله معاینه کیږي. دغه ډاکټر کولای شي چې نوموړی نورو ډاکټرانو او یا هم صحي مرکزونو ته معرفي کړي. پناه غوښتونکی کولای شي چې د خپلي خوښي یوه بل ډاکټر ته ورشي خو د نوموړي ډاکټر مصارف یې پر خپله ذمه دي.

*که چیري پناه غوښتونکی خپل ژوند په یوه مخصوص ځای کې تیروي ( کوډ 207 = د نورو سره ګډ ژوند )*

دا هغه ځایونه دي چې د ث پ آ آس او یا نورو ملګرو مؤسسو له اړخه اداره کیږي. هره مؤسسه د اداری لپاره خپل خپل اصول لري. بعضي یې د خپلو ډاکټرانو سره کار کوي او نور بیا پناه غوښتونکي خپلي خوښي ته پریږدي چې خپله درملنه وکړي. بعضي بیا د صحي درملني له کارت سره کار کوي چې نور یې بیا نه لري.

*پناه غوښتونکی د اوسیدلو د تجمع په مرکز کي نه اوسیږي خو 207 کوډ نو – شو لري ( او یا هم د ایس پ ډبلیو کوډ )*

د پناه غوښتونکی د صحت او درملني مصارف ( یو څه وړاندي وګوری ) په ریاست پوري تړلي دي. او دا ریاست د لاندنیو پناه غوښتونکو د مصارفو د ورکولو مسؤلیت لري: هغه پناه غوښتونکي چې زموږ د اوسیدلو ځای او د پناه غوښتونکو د توزیع د مرکز د خدمات ونه مني. هغه پناه غوښتونکي چې نه غواړي د تجمع په مرکز کي ووسي او یا هم په خپله خوښه د تجمع مرکز پریږدي. هغه پناه غوښتونکو ته چې د پناه غوښتلو مرکز د تجمع په مرکز کي د داخلیدلو اجازه ورنه کړي ( د پناه غوښتلو دوهمه او یا تر هغه ډیری پناه غوښتني). هغه پناه غوښتونکي چې د تجمع مرکز یې په کوم هوټل او یا بل کوم د عاجل اوسیدلو ځای کي موقیعت ولري ( دا مرکز د یوه عادي او نورمال مرکز په ډول نه ګڼل کیږي ).